# پشتونستان یو ضرورت دی






میر اکبر خیبر

د هیګل په ډیالکتیک کښې یوه مهمه کلیه ده چه وایي هر واقعیت معقول او هر معقولیت یو واقعیت دی. خو ورستنیو ډیالکتیک پوهانو دغه کلیه رده کړې ده، دوی وایي: هر واقعیت معقول کیدلای نه شي. ډیر داسي شیان شته چه واقعي دي، مګر معقول نه دي، مثلاً استعماري نظام یو واقعیت و او دی، خو هیڅکله پي معقول بللی نشو. ددې کلیې د تکمیل د پاره وروسته د ضرورت پرنسیپ وایستل شو. په دې ترتیب چه هر واقعیت په هغه وخت کښې معقول کیدلای شي چه په عین زمان کښې ضروري او مترقي وي. مثلاً د آسیا او افریقا نیشنلزم د ملیت غوښتني حس یو واقعیت دی. په عین زمان کښې معقول هم دی، ځکه چه هغه نظر استعمار ته یو مترقي او د هغه په ضد نهضت دی، د اجتماعي تحولاتو په جریان کښې هره مترقي مرحله نسبت پخوانۍ مرحلې ته یوه معقوله مرحله وي. ضرور هم

وي ځکه چه د اجتماعي تحولاتو د تسریع او د استعمار د مغلوبولو دپاره او بیا د اجتماعي تحولاتو په سلسلې کښي یوې عالي مرحلې ته د رسیدو دپاره د نیشنلزم د مرحلې تیرول که حتمي نه دي، نو ضروري خو دي. اوس به موږ د پښتونستان نهضت د پورتنۍ کلیې په رڼا کښي وڅیړو. لومړی د پښتونستان د ملیت غوښتني نهضت یا په بل عبارت د پښتونستان نشنلزم یو واقعیت دی. ځکه چه د پښتونستان په نامه یو ولس موجود دی، د مځکي په یوه معینه سیمه کښي ژوند کوي. د پښتون ولس د ملي خپلواکۍ د مبارزو او د پښتنو د عظمت په نامه په تاریخ کښي یو ځلانده فصل موجود دی. هر کله چه پښتنو له دغو درې ګونو عنصرونو څخه یوه (واکمنی) بایللې ده، نو د هغه د بیرته لاس ته راوستلو د پاره د پښتونستان په نامه د یو نهضت شروع کول یو معقول کار هم دی. ځکه چه د پښتونستان سیمه د لویي پښتونخوا له اصلی وجود څخه په داسي غیر عادلانه شرایطو سره بیله کړه شوه، چه هیڅ قانوني او حقوقي نسبت یې نه درلود.

هغه تړونونه چه په دې باره کښي شوي دي، هغه د حاکم او محکوم- غالب او مغلوب او په پای کښي د جابر او مجبور تر منځ وو، هیڅ تړون په داسي حال کښي حقوقي ماهیت نه لري. د هند د ویش په وخت کښي کومه د نامه رای ګیري چه وشوه هغه د سلف ډیترمنیشن SELF-DETERMINATION له اصولو څخه ډیره مخالفه او لرې ده ځکه په دې رایه ګیرۍ کښي پښتنو او بلوڅو ته اختیار نه و ورکړی شوی، چه لکه څنګه چه یې غوښتني وې، هغسی خپل سرنوشت وټاکي، هغوی ته صرف دا چانس ورکړ شوی و چه یا به هندوستان مني یا پاکستان.

د سلف ډیترمنیشن (د سرنوشت د تعیین حق) له اصل سره سم باید پښتنو ته دا اختیار ورکړ شوی وای چه خپل مقدرات له خپلي خوښي سره سم په هندوستان- پاکستان-پښتونستان یا افغانستان پورې تړي یا په کوم بل حیث. د افغانستان ذکر له دې کبله حتمي و چه د اوسني پښتونستان په نامه چه موږ کومي سیمي پیژنو هغه د ډیرو ظالمانه تړونو په اساس له افغانستان څخه جلا شوي دي، پښتانه افغانستان خپل مرکز بولي او په دې مرکز باندي راټولیدل د هر پښتانه د زړه آرزو او حق دی، بله دا چه د پښتونستان د خپلواکۍ نهضت له دې کبله هم یو واقعیت او معقول دی چه د ضرورت له اصل سره سم یو ضرورت دی اوس به موږ دغه ضرورت د افغانستان او پښتونستان د پاره له اقتصادي او سیاسي نظره څخه تر څیړني لاندی ونیسو.

**د پښتنو دپاره د پښتونستان اقتصادي ضرورت:** دا تر ټولو څرګنده خبره ده چه د یوه محکوم ولس ټول اقتصادي منابع د حاکم دولت په لاس کښي وي. اقتصادي استثمار د استعمار اصلي هدف دی. مسلط حکومت له تسلط لاندي ولس سره د نورو تبعیضي پالیسیو په لړ کښي د اقتصادي تبعیض

پالیسي هم چلوي. د مسلط دولت اقتصادي سیاست دا وي چه د اقتصادي انکشاف سرعت په مسلط او تسلط لاندي هیواد کښي په موازي ډول سیر ونکړي، که چیري د انګلستان د دوه سوه کلن تسلط په موده کښي د انګلستان او هندوستان اقتصادي انکشاف تر منځ یو مناسب ټینګ کړو په ډیر وضاحت سره زمونږ د پورتني ادعا ثبوت کوي. هندوستان له خپلو ټولو اقتصادي منابعو او انساني بې ساري قدرت سره بیا هم د نړۍ له ډیرو بیرته پاته هیوادو څخه دی او اقتصادي مسئلې یې ټولو ته څرګندي دي.

پښتونستان هم چه په برتانوي هند پوري جبراً تړل شوی و، په عین شرایطو کښي واقع دی د پښتونستان د بلوچستان ولایت او د پښتنو داسي نوري محکومي او نیمه- محکومي علاقې سره له ټولو امکاناتو د نړۍ له ډیرو بیرته پاته سیمو څخه حسابیږي.

د نوي استعمار د دیارلس کلن تسلط په دوران کښي عین حال دی. د پښتونستان د اقتصادي منابعو ګټه نظر پښتنو ته د پاکستان په جیب کښي لویږي. ددې ادعا د اثبات شواهد ډیر زیات دي، مثلاً د ورسک د بریښنا ستیشن په پښتونستان کښي واقع دی، خو ګټه یې پنجاب ته رسیږي او د پنجابیانو کورونه پرې رڼا کیږي، کارخاني یې پرې چلیږي او داسي په سلګونو نور کارونه ورڅخه اخیستل کیږي. په مقابل کښي ګورو چه د پنجاب له خوا پښتونستان ته څه شی راځي. په پنجاب کښي جوړ شوي ټکران او نور مصنوعات چه هغه هم اومه مواد یې د پښتونستان له سیمي څخه په ډیره ارزانه بیه پیرودل کیږي او په مصنوع شکل بیرته په پښتنو خرڅیږي، خو په ګران قیمت.

د پښتونستان سیمه د پنجاب- سند او بنګال د مصنوعاتو لوی بازار دی، د پنجاب او بنګال پانګې په پښتونستان کښي په استعماري شرایطو سره په کار لویږي او ټولي کارخانې د پنجابیانو په سرمایو جوړي شوي دي. کارګران یې د هند مهاجرین دي. که چیري په دغو کارخانو کښي چه د پښتنونستان په سیمو کښي جوړي شوي دي، د سرمایه ګذارۍ فیصدي د کارګرو د شمیر فیصدي، د پښتون او غیر پښتون له حیثه تر کتني لاندي ونیسو- زمونږ دا ادعا به په ښه شان ثابته شي چه په پښتونستان کښي د نورو تبعیضونو په لړ کښي د اقتصادي تبعیض پالیسي په ډیر وضاحت سره چلیږي. څو کاله پخوا چه په پاکستان کښي تش د نامه او د سیاسي استقلال خاوندان وو، نه یوازي یې په خپل هیواد کښي ستر مدنیتونه مینځ ته راوړل بلکه د لویو متصرفاتو خاوندان شوي هم وو. د غوریانو امپراطوران د سوریانو شهنشاهۍ د غزنویانو او ابدالیانو د عظمت لوړي دورې د هر چا په یاد دي..

خو کله چه د خپلواکۍ نعمت د پښتنو له لاسه لاړ، نه یوازي یې خپل عظمت بایللی دی، بلکه د نورو تر لاس لاندي او د نورو د لاس آله شوي هم دي. په پښتنو باندي د اسارت دوه دورې راغلي دي: د کلاسیک

یا د انګریز د استثمار په دوره کښي د هر ملحوظ د پاره چه و لومړی پښتانه جبراً له خپل اصلي مرکز څخه جلا کړل شول، جلا شوي سیمي د استعماري ګټو د پاره په دریو برخو وویشلي شوې، چه یوې ته د اداري سیمی ADIMINISTERED AREAS بلي ته د نیمه اداري سیمي SEMI AMIMINISTERED AREAS او دریمي ته د آزادو قبیلو یا قبیلوي سیمو TRIBAL AREAS نوم ورکړی و.

بلوچستان جلا صوبه شوه، د هري برخي تر منځ ویشونه او پولي جوړي شوې.

پدې ډول پښتنو نه یوازي خپل مرکزیت بایلود، بلکه په خپلو کښي سره ټوټي ټوټي شول، خو زړو استعماریونو دا ونه کړل چه د پښتنو یوه لویشت خاوره په سند یا پنجاب پوري وتړي، البته د پښتني ثقافت د پاره یې هیڅ و نه کړل.

د پښتنو د پاره یو صوبايي حکومت او صوبايي پارلمان موجود و. د پښتو ورځ پاڼي او مجلې د پښتني ثقافت د ژوندي ساتلو دپاره موجودي وې. د پښتنو ګوندونه او ډلي موجودي وې. پښتون پښتون و او پنجابی پنجابی. ددې کوښښ نه کیده چه تور سپین کاندي، یا سپین تور. کوم شی چه نه و هغه د پښتنو سیاسي او ملي خپلواکي وه، خو د اوسني تازه پاکستاني استعمار په دوره کښي پښتانه د خپل ټول موجودیت د امحاء له خطر سره مخامخ دي.

نن د یو یونټ تر پلان لاندي د پښتنو ارضي موجودیت د ختمولو د پاره د هغوی خاوره په سند او پنجاب پوري وتړله شوه، د هغوی د سیاسي موجودیت د ختمولو دپاره د هغوی صوبايي حکومت صوبايي پارلمان او ټول سیاسي ګوندونه رنګ او غیر قانوني اعلان شول. د پښتنو د ثقافتي موجودیت د امحاء د پاره د پښتو د ملي ژبي پښتو په ځای اردو او بنګالي د دوی رسمي او ملي ژبي اعلان شوې چه په اجباري ډول تطبیقیږي، په پښتو خپرونو باندي ډول ډول بندیزونه او قیود وضع کیږي.

د «مونږ مسلمانان یو، نه عرب او نه افغان» تر شعار لاندي دا هڅه کیږي چه په پښتنو کښي د پښتونولۍ او د ملیت او د استعمار په ضد احساسات ووژني. پښتانه د اسلام په نامه د خپلو سولو غوښتونکو او ګاونډیو دوستانو په مقابل کښي د جهاد فی سبیل الله او نعره تکبیر په نامه استعمال کړي.

تر ټولو خطرناکه خبره خو داده چه د پښتنو سیمه نه یوازې د پاکستان امپریالیزم پاملرنه ځانته راګرځولې بلکه له بده مرغه د هغوی خاوره په عمومي ډول د بین المللي امپریالیزم په مرکز بدله شوې ده.

ددې خبرې خطر نه يوازې د پښتنو د مليت غوښتنې نهضت ته متوجه دې، بلکه د پښتنو د ټولو ګاونډيو هيوادو سلامتيا ته هم لوی لوی مصيبتونه دي، د پښتنو په خاوره په لويديځ پاکستان کښې د خارجي امپرياليستي هيوادو ستري نظامي اډې جوړې شويدي، د پښتنو علاقه د ګاونډيو هيوادو په مقابل کښې د ټولو نظامي تربو، سياسي دسايسو او د جاسوسۍ فعاليتونو د مرکز په شان استعماليږي. د پيښور له ميدانو څخه د امريکايي يو- ۲ ډوله جاسوسي الوتکې الوتنه زمونږ د دې ادعا ژوندی ثبوت دی.

**د پښتونستان د موضوع ضرورت له اقتصادی پلوه د افغانستان دپاره**

که چيرې پښتونستان تر يو استعماري تسلط لاندې وي او د پښتنو د خپلواکۍ موضوع په معقول او عادلانه ډول حل نشي طبيعي ده چه د پښتون ملت او د مسلط استعماري نظام تر مينځ به شخړې او مجادلې خپلواکۍ ته تر رسيدو پورې دوام کوي. په افغانستان کښې چه د هر حکومت او هره ډله بر سر اقتدار وي، په هيڅ صورت د ځينو ټينګو ثقافتي او تاريخي علايقو له کبله له دې موضوع څخه بې علاقې کيدای نه شي. په هره اندازه چه افغانستان په دې موضوع کښې دلچسپي اخلي، طبعاً به له يو استعماري عکس العمل سره مخامخ شي. ددې عکس العمل سياسي اړخونه به پريږدو. استعماري عکس العمل معمولا د اقتصادي محاصرې په شکل وي، د افغانستان په وارداتي شيانو باندي به درانه ټکسونه ږدي او د افغانستان د اقتصادي بيلانس د خرابولو دپاره به ډول ډول اقتصادي او تجارتي نيرنګونه او دسيسې جوړيږي افغانستان د خپل اقتصادي انکشاف دپاره آزاد او تجارتي لار ته اړ دی، ددې اړتياوو د لرې کولو دپاره دوه لارې موجودې دې يا دا چه افغانستان په خپله بحر ته لاره ولري، يا خو پر خپل ګاونډيتوب کښې يو داسې دوست هيواد ولري چه د هغه ګټه د افغانستان ګټه وي او د افغانستان ګټه د هغه ګټه وي.

يو د بل د ګټو ساتندوی او يو د بل د پرمختګ ممد او مويد وي او يا خو په بل عبارت د يوه انکشاف او پرمختګ شرط وي.

د افغانستان دپاره پرته له پښتونستان څخه بل هيڅ څوک داسې نيک ګاونډی کيدلای نه شي او نه د پښتونستان دپاره پرته له افغانستان نه بل هيواد داسې نيک ګاونډی کيدلای شي.

**د افغانستان د پاره د پښتونستان سياسی ضرورت**

اقتصاد يو بنسټ دی چه سياسي اجتماعي، ثقافتي، حقوقي، قانوني، اخلاقي او ټولې هنري موسسې پرې بناء دي، د هر هيواد اقتصادي وضع د هغه هيواد سياسي او ثقافتي، اخلاقي او حقيقي اوضاع تعينوي لکه څرنګه چه مو له اقتصادي پلوه د پښتونستان د موضوع د حل څرنګوالی، د افغانستان د اقتصادي

پرابلمونو د حل د څرنګوالي سره تړلی باله، له سیاسي نظر څخه د پښتونستان د موضوع حل د افغانستان په سیاسي وضع باندي نیغه اغیزه لري.

که چیري د پښتونستان موضوع د عصري ایجاباتو او پرنسیپونو له مخو د پښتنو له غوښتنو سره سم حل شي، لکه څنګه چه به اقتصاد افغانستان په آزاده ساه وباسي او د نورو له قید او بند څخه به خلاص شي له سیاسي لحاظه به هم خپل آزاد سیاست له خپلو ګټو سره سم تعقیبولای شی. هیڅ کله به افغانستان د نورو د سیاسي او اقتصادي ګټو د ساتلو د پاره د یو پهره دار او حایل دولت BUFFER-STATE په شکل نه استعمالیږي.

په پای کښي د افغانستان د سیاسي استحکام او نظم د پاره د پښتونستان د موضوع حل یو حتمي او ضروري کار دی.

د پښتونستان سیاسي محکومیت د افغانستان سیاسي استقلال ته ستره صدمه ده. تر څو چه پښتانه خپل بشپړ سیاسي استقلال تر لاسه نه کړي، د افغانستان خپلواکۍ به په یوه پښه وي.

د پورتنیو ملاحظاتو په رڼا کښي دا ویلای شو چه: د پښتونستان نهضت یو خالص نیشنلستي د استعمار په ضد نهضت او یو ضرورت دی. د یوه نیشنلستي نهضت ملاتړ او په یوه استعماري ضد نهضت کښي برخه اخیستل د هر ملي او مترقي افغان ملي او بین المللي وظیفه ده. هره ناغیږي چه پدې برخه کښي کیږي، نه یوازي به د امپریالیزم او ارتجاع په ګټه وي، لکه د هر اصلاحي پروګرام د عملي کولو او د هر مترقي اجتماعي نهضت د پرمخ بیولو په لاره کښي به لوی لوی خنډونه پیدا کړي.

پای

**بیا ټایپ او ډیجیټل سمون: ع . ق . فضلی**

18-04-2020

هیر اکبر




# پښتونستان یو ضرورت دی



دمقالې ليکونکی او دمجاې قلمی مرستيال

دهیګل په دیالکتیک کښې یوه مهمه کلیه ده چه وایی هر واقعیت معقول او هر معقولیت یو واقعیت دی »» خو د روستنیو دیالکتیک پوهانو دغه کلیه رده کړې ده دوی وایي: هر واقعیت معقول کیدلای نه شي. ډیر داسې شیان شته چه واقعي دي مګر معقول نه دي مثلاً استعماری نظام یو واقعیت و او دی خو هیڅکله یې معقول بللی نشو. دغه دې کلیې دتکمیل د پاره وروسته د ضرورت پرنسیپ وایستل شو. ددې ترتیب چه هر واقعیت په هغه وخت کښې معقول کیدای شي چه په عین زمان کښې ضروري او مترقي وي. مثلاً د آسیا او افریقا نیشنلزم او د ملیت غوښتنې حس »» یو واقعیت دی. په عین زمان



www.esalat.org

کېږي معقول هم دی ځکه چه هغه نظر استعمار ته بو مترقي او دهغه په ضدنهضت دی داجتماعی تحولاتو په جریان کښې هره مترقی مرحله نسبت بخوا نۍ مرحلې ته بو ه معقوله مرحله وی ضروری هم وی ځکه چه د اجتماعی تحولاتو دتسریع اوداستعمار دمغلوبولو دپاره او بیا داجتماعی تحولاتو په سلسلې کښې بوی عالی مرحلې ته درسېدو دپاره دنیشنلزم دمرحلې تېرول که حتمی نهدي نو ضروری خودي.

اوس به موږ دپښتونستان نهضت دپورتنۍ کلمې په رڼا کښې وڅېړو. اومرې دپښتونستا ن د ملیت غوښتنی نهضت اپه بل عبارت دپښتو نستان نشنلزم یو واقعیت دی. ځکه چه دپښتون په نامه یو ولس موجود دی د مځکې په یوه معینه سیمه کښې ژوند کوي. دپښتون ولس دملي خپلواکۍ دمبارزو او د پښتنو د عظمت په نامه په تاریخ کښې یو ځلاندہ فصل موجود دی. هر کله چه پښتنو له دغو دری گونو عنصرونو څخه یو ه (وا کمنی) بـابـللی ده نو دهغه د بیرته لاس ته راوستلو د پاره د پښتونستان په نامه دیو نهضت شروع کول یو معقول کار هم دی. ځکه چه د پښتونستان سیمه داو یې پښتونخوا له اصلي وجود څخه په داسی غیرعادلانه شـرایطو سره بیله کړه شوه چه هیڅ قانوني اوحقوقي نسبت یې نه درلود.

هغه تړونونه چه په دې باره کښې شوی دی هغه دحاکم او محکوم، غالب او مغلوب او په پای کښې د جابر او مجبور تر منځ و و هیڅ تړون په داسی حال کښې حقوقي ماهیت نه لري. دهـنـد دو بـش په وخت کښې کومه دنامه رای گیری چه وشوه هغه د سلف ډیتر منیشن SELF-DETERMINATION له اصولو څخه ډېره مخالفه او لري ده ځکه په دې رایه گیری کښې پښتنو او یا وشو ته اختیار نه وور کړی شوی چه لکه څنگه چه یې غوښتې وی هغسی خپل سرنوشت وټا کـی هغوی ته صرف داچانس ور کړ شوی وچه یا به هندوستان منی یا پاکستان.

دسلف ډیتر منیشن (دسر نوشت د تعیین حق) له اصل سره سم باید پښتنو ته دااختیار ور کړ شوی وای چه خپل مقـدرات له خپـلی خو ښــی سره سم په هندوستان ـ پاکستان ـ پښتونستان یا افغانستان پورې تړی یا په کوم بل حیـث. دافغانستان ذکر له دې کبله حتمي وچه د و منی پښتو نستان په نامه چه موږ کومې سیمې یادو هغه دې برو ظالمانه تړونو په اساس له افغانستان څخه جلاشوی دی پښتانه افغانستان خپل مرکز بولی او په دې مرکزبانډی را تولیدلد هرپښتانه دزړه ارزو اوحق دی بله داچه د پښتونستان دخپلواکۍ نهضت له دې کبله هم یووا قعیت او معقول دی چه دضرورت له اصل سره سم یو ضرورت دی اوس به موږ دغه ضرورت د افغانستان اوپښتونستان دپاره له اقتصادي اوسیاسي نظر څخه تر څېړنی لاندې و نیسو.



www.esalat.org

د پښتونستان د پاره د پښتونستان اقتصادي ضرورت

دا تر ټولو ښکاره خبره ده چه د یوه محکوم ولس ټول اقتصادي منابع د حاکم دولت په لاس کښې وي. اقتصادي استثمار د استعمار اصلي هدف دی. مسلط حکومت له تسلط لاندې ولس سره د نورو تبعیضي پالیسو په اړ کښې د اقتصادي تبعیض پالیسي هم چلوي د مسلط دولت اقتصادي سیاست داوي چه د اقتصادي انکشاف سرعت په مسلط او تسلط لاندې هیواد کښې په موازي ډول سیر ونکړي که څیری د انګلستان د دوه سوه کلن تسلط په موده کښې د انګلستان او هندوستان اقتصادي انکشاف ته متوجه یو مناسبت ټینګ کړو په ډیر وضاحت سره زمونږ د پورتنی ادعا ثبوت کوي. هندوستان له خپلو ټولو اقتصادي منابعو او انساني بې شاري قدرت سره بیا هم دنړۍ له ډیرو بیرته پاتې هیوادو څخه دی او اقتصادي مسئلې یې ټولو ته ښکاره دي.

پښتونستان هم چه په برتانوي هندوستان پورې جبراً تړل شوی و په عین شرایطو کښې واقع دی د پښتونستان د بلوچستان ولایت او د پښتنو داسې نوري محکومې او نیمه محکومې علاقې سره له ټولو امکاناتو د نړۍ له ډیر و بیرته پاتې سیمو څخه حسابیږي.

د نوی استعمار د یارلس کلن تسلط په دوران کښې عین حال دی د پښتونستان د اقتصادي منابعو کټه نظر پښتنو ته د پاکستان په جیب کښې لویږي. د دې ادعا د اثبات شواهد ډیر زیات دي مثلاً د ورسك د بریښناستیشن په پښتونستان کښې واقع دی خو ګټه یې پنجاب ته رسیږي او د پنجابیانو کورونه پرې رڼا کیږي، کار خانې یې پرې چلیږي او داسې په سلګو نورو کارونه ور څخه اخیستل کیږي. په مقابل کښې ګورو چه د پنجاب له خوا پښتونستان ته څه شی راځي. په پنجاب کښې جوړ شوی تکران او نور مصنوعات چه هغه هم او مه مواد یې د پښتونستان له سیمې څخه په ډیره ارزانه بیه پیرودل کیږي او په مصنوع شکل بیرته په پښتنو خرڅیږي خو په ګران قیمت.

د پښتونستان سیمه د پنجاب سند او بنګال د مصنوعاتو لوی بازار دی د پنجاب او بنګال بانکې په پښتونستان کښې په استعماري شرایطو سره په کار لویږي او ټولې کارخانې د پنجابیانو په سرمایو جوړې شوي دي. کار ګران یې د هند مهاجرین دي. که چیرې په دغو کار خانو کښې چه د پښتونستان په سیمو کښې جوړې شوي دي د سرمایه ګذارۍ فیصدي د کار ګرو د شمیر فیصدي د پښتنو او غیر پښتنو له حیثه تر کتنې لاندې ونیسو - زمونږ دا ادعا به په ښه شان ثابته شي چه په پښتونستان کښې د نورو تبعیضونو په اړ کښې د اقتصادي تبعیض پالیسي په ډیر وضاحت سره چلیږي څو کاله پخوا چه د پاکستان کښې تش د نامه



www.esalat.org

فیډرالي نظام (FEDERAL SYSTEM) وتر یوی اندازی پوری ځینی ساده خلك پدې غولیدلي وو چه په پاکستان کښی دفیډرالي جمهوریت هره صوبه ځان ته بودجه لری او په هغی صوبی کښی خرڅیږی او د بودجی کسرونه د مرکزی حکومت له خوا پوره کیږی. خودا څو کاله شوه چه فیډرالي نظام ختم دی او په ځای یی دیوه یونټ پروژه جاری شوی چه د هغی په اساس ورې صوبی په او یو صوبو وتړلی شوی او هغه نیمګړی مالی استقلال چه په یوه فیډرالی نظام کښی هری صوبی ته ور کړی شوی و بیرته سلب شو او پدې صورت د وړو صوبو استثمار یو قانونی شکل غوره کړ. پخوا به یوشی له صوبه سرحد څخه پنجاب یاسندته وړل کیده نو نوم به پری دصوبه سرحد شو اوس هر شی دمغربی پاکستان مال دی.

دورسك بجلی (بربښنا) دمردان دبوری کار خانه ټول دصوبه سرحد شمال غربی مال او په همدی نامه په نورو ورڅخه ګټه کوله. خواوس دمغربی پاکستان مال شو او د مغربی پاکستان په هڅوسیمو کښی ورڅخه کار اخیستل کیږی چه له صوبه سرحدنه ډیر په مخ - او غیر پښتانه دی.

پخوا هم به صوبه سرحد شمال مغربی اوبلوچستان « پښتونستان » کښی داستعماری تسلط له بر کته دمځکو په برخه کښی د جایګیر داری یازمینداری « LANDLOROISM » سیستم برقرار و او دپښتنو اکثریت بی ځمکی وو د څو تنو تولی ځمکی جایګیر دارو په قبضه کښی وی. دپاکستان مارشل لایی نظام دځمکو د اصلاحاتو پروګرام په لاس کښی و نیو ددی په ځای چه پدی اصلاحاتو کښی زیاتی ځمکی په بی ځمکو پښتنو وېشلی شی د هندوستان د پناه غوښتونکو سیلاب مخ په پښتونستان را او خوځیدا او دپښتنو زمیندارو ځمکی ورته ور کړی شوی پدی ډول زیات شمیر پښتانه بی کاره او بی روزګاره پاته شول چه اوس دپاکستان له عسکری ملازمت نه پرته بله لار نه لری.

### په سیاسی لحاظ دپښتنو دپاره دپښتونستان ضرورت

دا یو مسلم او منل شوی حقیقت دی چه که یو و لس سیاسی خپلوا کی نه لری او دبل تر اسارت لاندی ژوند کوی دهغه ټول مادی او معنوی استعدادونه به نه یوازی د مسلط نظام په ګټه وی بلکه هغه ټول به ورته د ځان بلا او لوی تکلیف وی. مال به دده وی خو اختیار به یی دبل. څه چه یی زړه غواړی هغه به کولی نه شی او څه چه یی زړه نه غواړی هغه به پری کیږی. زحمت او کړاو به دده وی خو ګټه به یی د نورو. د پښتنو ماضی او حال ته چه یو نظر واچول شی دوه دوری په نظر راځی. لومړی هغه دوره چه پښتنو خپلوا کی درلوله



www.esalat.org

اودسیاسی استقلال خاوندان وو . نه یوازی یی
په خپل هیواد کښی ستر مدنیتونه مینځ ته راوړل
بلکه دلو یو متصرفاتو خاوندان شو ی هم وو.
د غوریانو امپرا طوران د سوریانو شهنشا هی
د غزنویانو اوابدالیانو د عظمت لوړی دوری
د هرچا په یاد دی .

خو کله چه د خپلوا کی نعمت د پښتو له
لاسه لاړ نه یوازی یی خپل عظمت بایللی دی
بلکه دنورو تر لاس لاندی او دنورو دلاس
اله شوی هم دی . په پښتو باندی د اسارت
دوه دوری راغلی دی : د کلاسیک یا د انگریز
د استثمار په دوره کښی د هر ملحوظ د پاره چه د
لوړی پښتانه جبراً له خپل اصلی مرکز څخه
جلا کړل شول جلاشوی سیمی د استعماری کټو د پاره
په دریو برخوو ویشلی شوی چه یوی ته داداری سیمی
( ADMINISTERED AREAS ) بلی ته د نیمه
اداری سیمی ( SEMI ADIMINISTERED
AREAS او دریمی ته د ازاد و قبیلو
یا قبیلوی سیمو ( TRIBAL AREAS ) نوم
ور کړی و .

بلوچستان جلا صو به شوه د هری برخی تر منځ
ویشونه او پولی جوړی شوی .

پدی ډول پښتونه یوازی خپل مرکزیت
بایلو د بلکه په خپلو کښی سره ټوټی ټوټی
شول . خو زړو ا ستعمار یو نو داونه کړل چه
د پښتنو یوه لویشت خاوره په سند یا پنجاب پوری

وتړی البته د پښتنی ثقافت د پاره یی هیڅ ونه
کړ ل .

د پښتنو د پاره یو صوبایی حکومت او صو بایی
پارلمان موجود و . د پښتو ور ځپانی او مجلی د پښتنی
ثقافت د ژوند ی ساتلو د پاره موجودی وی .
د پښتنو د پاره د سیاسی فعالیت ازادی موجوده وه
د پښتنو گوندونه او ډلی موجودی وی . پښتون
پښتون وا و پنجابی پنجابی . ددی کوشش نه کیده
چه تور سپین کاند ی یا سپین تور . کوم شی
چه نه وهغه د پښتنو سیاسی او ملی خپلوا کی وه
خو داو سنی تازه پاکستانی استعمار په دوره کښی
پښتانه د خپل ټول موجودیت دامحاله خطر سره
مخامخ دی .

ن دیو یونټ تر پلان لاندی د پښتنو ارضی
موجودیت د ختمولو د پاره د هغوی خاوره په سند
او پنجاب پوری وتړ له شوه د هغوی د سیاسی
موجودیت د ختمو لو د پاره د هغوی صوبایی
حکومت صو بایی پارلمان او ټول سیاسی گوندونه
ړ نګ او غیر قانونی اعلان شول . د پښتنو د ثقافتی
موجودیت د امحا د پاره د پښتنو د ملی ژبی پښتو
په ځا ی اردو او بنگالی د دوی رسمی او ملی
ژبی اعلان شوی چه په اجباری ډول تطبیقیږی
په پښتو خپرو نو بندیز لګیږی او پښتو ډول ډول بندیزونه
او قیود وضع کیږی .

د « مو نږ مسلمانان یو نه عرب او نه افغان »
تر شعار لاندی داهڅه کیږی چه په پښتنو کښی
د پښتو نولی او د ملیت او د استعمار په ضد احساسات



www.esalat.org

ووژنی . پښتانه د اسلام په نامه د خپلو سولو غوښتونکواو گاونډیودوستانو په مقابل کښی دجهاد فی‌سبیل‌الله اونعرهٔ تکبیر په نامه‌استعمال کړی .

ترټولو خطرناکه خبره‌خودادهچه دپښتنو سیمه‌نه‌یوازی‌دپاکستان امپریالزم‌پامل‌رنه‌ځانته راګرځولی بلکه له بده مرغه دهغوی خاوره د عمومی دول دبین‌المللی امپریالزم په مرکز بدله شوی ده .

د دی خبری‌خطرنه‌یوازی‌د پښتنو د ملیت غوښتنی نهضت ته متوجه دی بلکه د پښتنو دټولو گاونډیو هیوادو سلامتیا ته هم‌لوی مصیبتونه‌دی‌دپښتنو په‌خاوره‌په‌لویدیځ‌پاکستان کښی د خارجی امپریالستی هیوادو ستری نظامی اډی جوړی شویدی دپښتنو علاوه د گاونډیو هیوادو په مقابل کښی دټولو نظامی تربو ، سیاسی دسایسو اودجاسوسی فعالیتونو دمرکزپه شان‌استعمالیږی . دپیښور له میدانو څخه دامریکایی یو - ۲ دوله جاسوسی‌الوتکی الوتنه زموږ د دی ادعا ژوندی ثبوت دی .

دپښتونستان‌دموضوع ضرورت
لداقتصادی‌پلوه‌دافغانستان‌دپاره

که‌چیری‌پښتونستان‌تر یواستعماری تسلط لاندی وی‌او د پښتنو د خپلوا کۍ موضوع په معقول اوعادلانه دول حل نشی طبیعی ده چه د پښتون ملت‌اودمسلط‌استعماری‌نظام‌ترمنځ به شخړی اومجادلی‌خپلوا کۍ ته‌تررسیدو‌بوری .

دوام کوی په‌افغانستان کښی‌چه‌د هر حکومت اوهره‌دله برسر اقتداروی په‌هیڅ‌صورت‌دځینو قینګو ثقافتی او تاریخی علایقو له کبله له دې‌موضوع څخه بی علاقی کیدای‌نه‌شی. په‌هره اندازه‌چه‌افغانستان‌په‌دې‌موضوع کښی‌دلچسپی اخلی طبعاً به‌له‌یواستعماری عکس العمل سره مخامخ شی.ددې عکس‌العمل سیاسی اړخو نه به پریږدو .استعماری عکس العمل‌معمولاً داقتصادی‌محاصری په شکل‌وی دافغانستان په وارداتی شیانو باندی به‌درانه ټکسونه ږدی او دافغانستان داقتصادی بیلانس دخرابولو دپاره به‌ډول ډول اقتصادی اوتجارتی نیرنګونه‌او دسیسی جوړ یږی افغانستان دخپل اقتصادی انکشاف‌دپاره آزاد اوتجارتی لارته اړ دی ددی‌اړتیا وودلری کولو دپاره دوه لاری موجودې دی یادا چه افغانستان په‌خپله بحرته لاردولری یا نو پر خپل گاونډیتوب کښی بوداسی دوست هیواد ولری چه دهغه گټه دافغانستان گټه وی اود افغانستان گټه دهغه گټه وی .

یودبل د گټو ساتندوی‌او ودبل‌دپرمختگ ممداو مویدوی‌اویاخوپه‌بل‌عبارت‌یو‌ه‌انکشاف اوپر مختگ د بل د انکشاف او پر مختگ شرط وی .

دافغانستان دپا ره‌پرته له‌پښتونستا ن څخه بل هیڅ څوک داسی‌نیك گاونډی کیدلا ی نه شی او نه‌دپښتونستان دپاره پرته‌له‌افغانستان نه بل هېواد داسی‌نیك گاونډی کیدلای شی .



www.esalat.org

## دافغانستان د پاره د پښتونستان سیاسي ضرورت

اقتصاد یو بنسټ دی چه سیاسي، اجتماعي، ثقافتي حقوقي، قانوني اخلاقي او ټولې ذهني موسسې پرې بنا دی د هر هیوا د اقتصادي وضع د هغه هیواد سیاسي او ثقافتي، اخلاقي او حقیقي اوضاع تعینوي لکه څرنګه چه موله اقتصادي پلوه د پښتونستان د موضوع د حل څرنګوالی د افغانستان د اقتصادي پرا بلمو نو د حل د څرنګوالي سره تړلی باله له سیاسي نظر څخه د پښتونستان د موضوع حل د افغانستان په سیاسي وضع باندې نیغه اغیزه لري.

که چیرې د پښتونستان موضوع د عصري ایجابا تو او پرنسیپو نو له مخې د پښتنو له غوښتنو سره سم حل شي لکه څنګه چه به اقتصاد افغانستان په آزاد هساه وباسي او د نورو له قید او بند څخه به خلاص شي له سیاسي لحاظه به هم خپل آزاد سیاست له خپلو ګټو سره سم تعقیبولای شي. هیڅ کله به افغانستا ن د نو ر و د سیاسي او اقتصادي ګټو د ساتلو د پا ره د یو بهره د ا ر او حایل دولت BUFFER-STATE په شکل نه استعمالیږي.

په پای کښې د افغانستان د سیاسي استحکام او نظم د پاره د پښتونستان د موضوع حل یو حتمي او ضرو ري کار دی.

د پښتونستان سیاسي محکومیت د افغانستان سیاسي استقلال ته ستره صدمه ده. تر څو چه پښتانه خپل بشپړ سیاسي استقلا ل تر لا سه نه کړي د افغانستان خپلواکۍ به په یوه ښه دی.

د پورتنیو ملاحظاتو په رڼا کښې دا ویلای شو چه : د پښتونستان نهضت یو خالص نیشنلستي د استعمار په ضد نهضت او یو ضرورت دی د یو نیشنلستي نهضت ملاتړ او په یوه استعماري ضد نهضت کښې برخه اخیستل د هر ملي او مترقي افغان ملي او بین المللي وظیفه ده . هره ناغیرې چه پدې برخه کښې کیږي نه یوازې به د امپریالزم او ارتجاع په ګټه وي بلکه د هر اصلاحي پرو ګرام د عملي کولو او د هر مترقي اجتماعي نهضت د پرمخ بیولو په لاره کښې به لوی لوی خنډونه پیدا کړي. پا ی

www.esalat.org